DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۶ هـ ش

سال چارم شماره ۵۲
شماره مسلسل ۴۱۱
پنجشنبه ۱۴ حوت ۱۳۸۲ هـ ش
۱۳ محرم‌الحرام ۱۴۲۵ هـ ق
4 March , 2004

PROPERTY OF ACKU

د ائتلافی ځواکونو نوی تاکتیک پیل شو

په افغانستان کې میشتو نړیوالو ائتلافی ځواکونو د هیواد په سرحدي سیمو کې د طالبانو او القاعدې د پاتې شونو دنیولو لپاره خپل فعالیتونه ګړندي کړي دي. د ایتلافی خواکونو ویاند براین هلفرتی په کابل کې وویل چې په سرحدي سیمو کې یې د ځواکونو د شته والی د پیاوړتیا لپاره یو لړ نوي پروګرامونه تر لاس لاندې نیولي چې د امریکا په مشرۍ ایتلافی ځواکونه په القاعدې او طالبانو پورې اړوند کسان ونیسي.

د نوي تاکتیک له مخې ائتلافی ځواکونه د پلټنو لپاره تر دې وروسته د زیات وخت لپاره دعملیاتو په سیمه کې پاتې کیږي. براین هلفرتي وویل : دغه پلان یې ځکه بدل کړی چې پخوا به د ائتلافی ځواکونو تر پلټنو او پشا تک وروسته شکمن ترهګر او طالبان بیرته خپلو سنګرونو ته ستنیدل. د یو بدلون اعلان وکړ.

براین هلفرتي په وینا د ائتلافی ځواکونو خوندي شوی عسکر به لدې وروسته خپلې ګڼ شمیرې پراخه کړي او د استخباراتي معلوماتو د راغونډولو په موخه به له خلکو سره له نږدې تماس وساتي.

په سرحدي سیمو کې د ائتلافی ځواکونو دغه خوندي توب یوه اونۍ وروسته له هغه عملي کیږي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د قواوو لوړ پوړي قوماندان ډګرجنرال دیویډ بارنو په پوځي پلان کې د یو بدلون اعلان وکړ.

باز دید وزیر خارجه انگلستان از افغانستان

وزیر امور خارجه انگلستان ،آقای جک سترا به روز جمعه پنجم مارچ جهت ملاقات با رئیس دولت آقای حامد کرزی و افتتاح تعمیر جدید سفارت انگلستان به افغانستان سفر مینماید. سخنگوی سفارت انگلستان در کابل ضمن ارایه این خبر گفت:ما خیلی خوشحالیم که وزیر امور خارجه برای بار دوم به افغانستان سفر می کند و با رئیس دولت اقای حامد کرزی ملاقات نموده شخصاً وی را در رابطه به کمک سه صد میلیون پوند از طرف کشور متبوعش در طول سه سال بعدی مژده میدهد. افغانستان از جمله الویت های برای انگلستان باقی خواهد ماند. در طول دوسال گذشته ما به موفقیت های زیادی نایل شدیم، البته در بخش های مختلف از قبیل ریفورم بخش امنیتی، تدارک خدمات ابتدایی و تصویب قانون اساسی جدید. ولی هنوز هم یک تعداد چلنج هایی باقی مانده است که میتوان انرا توسط این تعهد مالی کمک نماییم.

سخنگوی سفارت تعمیر جدید سفارت انگلستان را در کابل سمبولی از تعهد کمک انگلستان برای افغانستان خوانده افزود: اقای سترا همراه با رئیس دولت اقای حامد کرزی در رابطه به تزیید کمک انگلستان در راه اندازی انتخابات که به اندازه شش ملیون پوند اضافه گردیده و توسط گریت توماس، وزیر انکشافات انگلستان دیرور اعلان گردید، صحبت خواهد نمود. با این کمک جمله خدمات انگلستان در پروسه انتخابات به نه (9) میلیون پوند می رسد که انکشور را در سطح دومین تمویل کننده قرار میدهد. صحبت ها همچنان به ادامه کنفرانس بین المللی مجادله بر ضد مواد مخدر متمرکز خواهد بود که در 9 فبروری در کابل دایر گردید و در آن افغانستان، ملل متحد و انگلستان اشتراک داشتند. انگلستان در مجادله بر ضد مواد مخدر در سطح رهبری در بین جوامع بین المللی قرار دارد.

ترکمنستان مرسته نه کوي

د نشي توکو د کنترول نړیوالی اداري د ترکمنستان په هیواد نیوکه کړې ده چې له افغانستان څخه د مخدره موادو د قاچاق د مخنیوی لپاره له سیمه ییزو هڅو یا دتوپاس له عملیاتو سره همکاری نکوی. د توپاس عملیات له دریو کلونو راهیسې د مخدره موادو او د (ارتیک ان هایرایت) په نوم موادو چې د هیروینو په جوړولو کې پکاریږي د قاچاق د مخنیوی لپاره پیل شوي دي ملګری ملتونه وایی له افغانستان څخه د نشي توکو او کیمیاوی موادو د قاچاق د مخنیوی لپاره د ترکمنستان هیواد هڅې ډیرې ضروری دي.

ترکمنستان له افغانستان سره اوه سوه کیلو متره شریکه پوله لري او افغانستان په نړۍ کې د نشي توکو تر تولو ستر تولیدونکی هیواد پیژندل شوی دی.

د ګڼې او بښونکې خدای په نامه

سرمقاله

د کوکنارو د کښت یو ځلی له منځه وړل له ستونزو ډکه چاره ده

د ریوټرونو او ارقامو له مخې زمونږ هیواد د کوکنارو د کښت او هیروینو په قاچاق کې د دولت او نړیوالو مسوولو اداروپاملرنه ځانته اړولی ده او د مخنیوی لپاره په ملی او نړیواله سطحه قهرجنی اعلامی خپرې شوی او خپریږي.

په وروستیو کلونو کې دهیواد په ټولو ولایتونو کې د بی کاری. وچکالی، قیمتی له امله دکوکنارو او په کلیو باندو کې له اپین څخه دهیرونینو د جوړولو د ساده کارخانو زیاتوالی د دې زمینه برابره کړه چې دطالبانو د وخت د قوماندانانو لاس هم په دغه سوداګری او له سوداګرو څخه د حق په اخیستلو کې شریک شو. د هری سیمی ولسوال له سوداګرو څخه د یو کیلو پوډرو په جوړلو باندې ۱۰۰۰ کلداری اخیستی او په هره کارخانه کې به د ولسوال یو استازی ورته ناست و خو په ۱۳۷۸ کال کې د طالبانو په یو متحد المال فرمان سره په ټول افغانستان کې دکوکنارو کښت منع کړای شو او په هغه کال د هیواد په ټولو سیمو کې د کوکنارو له کښت څخه څکه لاس واخیستل شو چې مسوولین مرکزی امر ته وفاداره پاتې شول. خو اوس مهال چې د هیواد په ۹۵٪ څمکه کې کوکنار کرل شوی دی او تر تیر کال یې اندازه زیاته شوی ده د بی کاری، وچکالی او قیمتی له علتونو سره سره پخپله د سیمو له قاچاقبرانو سره په کار وبار کې د ولایاتو او ولسوالیو د ملکی او پوځی مسوولینو او نورو سیمه ییزو قوماندانانو شریکیدل دی او لدې لارې کولای شی د ښکلو ښکلو پلازو په جوړولو کې خپلې سیالۍ پرمخ بوځي. د کوکنارو کښت او قاچاق هغه وخت له منځه تللی شی چې له یوې خوا خپله مسوولین په دغه کار وبار کې له اشتراک او تجارت څخه لاس واخلی او له بلی خوا دولت د ولسونو لپاره د بی کاری د له منځه وړلو او نورو هر اړخیزو مرستو د کولو او بوختیاوو زمینه برابره کړی او د کوکنارو کښت د کلونو په اوږدو کې ورو ورو کم کړی.

د کوکنارو د مخنیوی لپاره د دولت قهر جنی اعلامیې پداسې وخت کې خپرېږي چې همدا اوس په کلیو او باندو کې خلك له یوې خوا له بی کاری او قیمتی او پیسو د نشتوالی له ستونزو سره مخامخ دی له بلی خوا خلك د ولسوالیو او ولایاتو په سطحه له ملکی او پوځی مسوولینو څخه سرتکوی او تخریبی عناصر هم په ولسونو کی د دولت په ضد زهرجن تبلیغات او بریدونه کوی. په داسی حالاتو کې دی امکان شته چې د خپلو کښتو د یو دم له منځه وړلو په صورت کې د دولت په ضد جبهه ګیری رامنځته شی د خلکو او دولت تر منځ واټن به په ډیر پدو شی او امنیتی حالات به بیا د ګډوډی په لوری حرکت وکړي چې کنترول به یې له اداري څخه ووځی.

سران قبایل تعهد کردند

قوماندانان نظامی ولایت خوست در نشست با سران قبایلی پاکستان از انها خواسته اند تا از ورود افراد مظنون به عضویت در شبکه القاعده و طالبان بداخل افغانستان جلو گیری کنند. سران قبایلی در ین نشست تعهد کرده اند در صورت که به چنین افراد برخوردند انها دستگیر کرده به منابع دولت افغانستان یا حکومت پاکستان تحویل دهند. منطقه قبایلی پاکستان محلاتی است که مقامات دولتی پاکستان وا افغانستان انرا مخفی گاه القاعده و طالبان می پندارند

خانه قاتلی به آتش کشیده شد

اهالی ولسوالی تنی ولایت خوست منزل قاتلی را که بعد از کشتن یک تن از اهالی ان محل فرار کرده بود به اتش کشیده اند. چندی پیش مردم ولسوالي تنی با تشکیل شورای قومی اعلام کرده بودند که اگر کسی مرتکب به قتل و قتال شده و یا از فیصله های شورای محلی سرباز زند منزلش به اتش کشیده خواهد شد.

شورا های محلی و قومی از سنت مردمان این مناطق است. که مخصوصاً در سال های جنگ و در نبود دولت مرکزی حیثیت ارگانهای قضایی را داشته و از اعتبار بالای برخور دار اند.

د پاچا خان خدران زوی دولت راخپل کړ

د پاچا خان خدران زوی عبدالولی خان خدران د پکتیا د وزې خدرانو ولسوالی د ولسوال په توګه وټاکل شو. د وزی خدران سیمه تر لسو کلونو څنډ وروسته د بیا لپاره د دولت په چوکاټ کې راغله. په هغه غونډه کې چې له همدې امله په نوموړې سیمه کې جوړه وه د پکتیا والي د خدرانو د قوم له هلو ځلو څخه مننه وکړه. عبدالولی خان خدران له دولت سره هر راز همکاری ته خپل چمتو والی وښود. دغه راز د نوموړې ولسوالی په امنیتی او اداري تشکیلاتو کې کابو شل تنه عالمان په دندو وګمارل شول. د وزې خدران له ولسوالی سره د جوماتونو، ښوونځیو او نور تاسیساتو د بیا رغونې په لړ کې د پکتیا والي د یو میلیون افغانیو مرسته هم وکړه. د عبدالولی خان خدران پلار پاچا خان خدران یو نیم کال وړاندې له دولت څخه د دولتی څوکۍ په سرخوا بدی شوی دی.

بازگشت مهاجرین از امروز اغاز می یابد

کمیساری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان برنامه بازگشت مهاجرین افغان از پاکستان را عملاً از سر می گیرد. UNHCR برای انعده از بازگشت کننده گان که بطور داوطلبانه میخواهند به وطن شان بر گردند مرکزی را در منطقه کچه گړی پشاور ایجاد کرده است. به گفته اقای افریدی یک تن از ماموران کمیساری عالی سازمان ملل متحد در شهر پشاور انتظار می رود که روند برگشت امروز آغاز شود.

UNHCR در ین مرکز وسایل کمک به بازگشت کننده گان را اماده کرده است. اقای افریدی افزود بازگشت کننده گان برای دریافت کمک های این سازمان باید به پرسشنامه های جواب گویند که در ان سوالاتی در مورد تعداد خانواده ها ، سن افراد و سکونت درج شده است.

دو هزار تن از افراد قول اردو های ۷ و ۸ به زنده گی غیر نظامی سوق می شوند

مسوول برنامه خلع سلاح و ملکی سازی یا DDR در مزار شریف در یک کنفرانس خبری گفت برنامه ملکی‌سازی حدود دو هزار تن از افراد قول اردو های هفت و هشت را به پایان رسانیده و در اوایل هفته اینده انها به زندگی غیر نظامی بازگشت داده خواهند شد اقای مانویخ افزود بیشتر از هزار تن از افرادی که سلاح به زمین گذاشته اند در اموزش های حرفوی شرکت خواهند کرد و افراد باقی مانده شامل تشکیلات اردوی ملی و پولیس خواهند شد. برنامه DDR یا ملکی سازی تا کنون در کابل و سه ولایت دیگر افغانستان اجرا شده و حدود شش هزار تن در ان شرکت کرده اند.

اعلان فاتحه

دوستان مطلع باشند

با تاسف فراوان اطلاع حاصل نمودیم که محترمه والیده سید فضل اکبر پاچا والی ولایت کنر جهان فانی را در ایالات متحده امریکا وداع گفته اند. جنازه در صورت مساعدت هوا ساعت 9 صبح به میدان هوایی کابل مواصلت نموده و به حضیره آبایی شان در دو شاخیل ولایت کنر انتقال مییابد. مرکز نشرات افغان و روزنامه اراده در حالیکه مراتب تسلیت عمیق خویش را به بازمانده گان مرحومی ابراز میدارد برای متوفی بهشت برین آرزو می دارد.

در جواب مقاله "زنده باد مار مولک"

(حباب دموکراسی و عجز ما)

لیلا خرم

بالاخره هر پدیده و هر ارزش زندگی از خود مرجعی دارد و اصل، مبدأ و ریشه یی که دیر یا زود الزاماً چه بخواهد یا نخواهد به نحوی از انحا به آن بازخواهد گشت، آنگونه که انسان خاکی دوباره به همان خاک برمیگردد. اما چه بساکه آدمیان ساده لوح با تماشا یا دست یافتن به "نو" ها دنیا و مافیها را فراموش میکنند، از خود بیخود گشته و در نو و جدید ولو خیالی مستغرق می گردند، بی آنکه حتی درین بیندیشند که آخر این "نو" هم بر بنیادی ساخته شده و من خود نیز ه"نحیث آدم از خود اساسی داردم و نمیتوانم همه تن در چیزی که آنرا جدیداً شناخته ام حل گردم، مخصوصاً این تمایل به حل و مل شدن ها در میان ما افغان ها که از بخت خوب یا بد نزدیکترین شاخه به ریشه و اصل خویشیم نسبت به هر تبار دیگر گرد و نواح ما زیاد و با بیخودی و دیوانگی همراهست. امروز که جهان به یک قریه نه بلکه به ظرف مملو از آب و کف صابون شباهت یافته که هر آن حبابی بر آن میروید، بزرگ میشود و به هوا می پرد و همراه با آن زمان و وقت نیز پا به پای حبابهای تازه نفس به تیزی و سرعت برای فردا های نامعلوم جا خالی میکند، در ویرانه خود درگیر حبابهای هستیم که از فراز های ظرف بر ما که در ته ظرفیم وارد شده اند"حبابهای همچون موتر شیک و درخشانی که با سرعت از کوچه برگردد و خاک و کثافات رو شده و در غبار خاک های عقبش محو میشود، یا همچون بلاک های پینه پینه شده مکروبان که با شیشه های شکسته و لباس های لیلامی از برنده آویزان خویش بر فرق سر باری از تاجهای رنگانگ "دش آنتن" گذاشته اند، یا مانند آکادمیهای" انگلیسی و کامپیوتری که گاراجهای تنگ و تاریک و شکسته را به "مراکز بزرگ علم و دانش و تکنالوژی عصر" مبدل کرده اند! همانند وزارتی که بنام زنان برای زنانی که با کودکان و مردان محتاج خویش شب و روز در تلاش پیداکردن یک لقمه نان جان می کنند حقوق سیاسی هنری و کلانکاری" بدست میآورد، یا همانند اصطلاحات و واژه های انگلیسی اردو و پارسی ایرانی که امروز در یک کلام فرهنگ سطحی ما را تشکیل میدهد، و بالاخره همچون دموکراسی که بعد از آنهم "ایزم" های کافر و کمونست و مسلمان اینک عنوان سرمقاله صفحه جدید هستی نسل افغان را میسازد بدون آنکه به عمق و ژرفای این ارزش که آنرا هم چون حباب درخشانی برخود وارد ساخته اند اندکی تأمل کرده بیاندیشند که این ارزشی مدرن و فیشنی هم بالآخره میتواند ریشه در کهنه بازار فلسفه یونان و روم قدیم داشته باشد؟ و آیا این پدیده اجتماعی، ولو امروز در قلب مدرنیزم قرن بیست ویک از سرنو رنگ آمیزی شده با آنهم از باستان نیامده و از آن مایه نگرفته است؟

بدون شک دموکراسی امروز ارزشیست شبهه به مودهای پاریس که همان چند نوع مشخص لباس وقتاً فوقتاً با یکدیگر جاهای شانرا عوض می کنند.

این چند گون لباس همیشه برای یکدیگر فرصت تبارز میدهند و به اصطلاح عامه نوبتکان می کنند.

اصل دموکراسی را هم (صرف تا حد نام) لباسی کرده اند که بر تن امیال، اهداف و روش های خود گاه گاه کوتاه میسآزند و زمانی دراز. هموطنان نه چندان جوان ما شاید نامهای آلمان دموکراتیک، یمن دموکراتیک، پولیند و ..... و بالاخره افغانستان دموکراتیک را از زمانی بیاد داشته باشند که بر اساس سیستم ملقب به دموکراتیک واژهٔ دموکراسی در معنی عبارت بود از: تجاوز، اختناق، ظلم، زندان و مرگ. دموکراسی پیراهن دراز سرخ بود که با خون انسان رنگ شده بود و امروز که دموکراسی یک بار دیگر بیانگر آزادی به سیستم غربیست در پیراهن سیاه رنگ مینی ژوپی تبلور یافته که برتن دختر طنازو و بی باکی همچون حباب متشعشی به چشم میخورد.

به همین منظور است که ما هر چه در بساط داشتیم و داریم (نداریم) فدای آن نموده و حتی حاضریم به خواهش او سنگ کهنه و فرسوده ای از تهداب خود را نیز از جا (بدل، دختر فروشی، خون، زن کشی و هزار ظلم و استبداد دیگر) می افتد باور خواهد داشت که این موسسه هر چند با موضوعات خونینی سروکار داشته باشد با آنهم بربرتر از مفهوم اصلی ورزشی بنام (بزکشی) نخواهد بود. ظالم تر از حاکمیت های کارته یی سالهای آغاز ین دهه نود و بالاخره وحشتبار تر از عملیه های میخ کوبیدن بر فرق سرها و یا رقص مرده نیز نخواهد بود، بلکه بر عکس نمادی بوده میتواند از ارتقای فکری عصر باستان جامعهٔ ما، الگویی شده میتواند از ثبات و پایداری عدل و داد و بالاخره پیشینهٔ تاریخی غیر رسمی و مکتوم نظام عام تقنینی و قضایی امروز بشر، ولو در محدودهٔ خانواده، قبیله قوم یا ملت.

حرف واهی تر و خیالی تری بیشتر ازین چه خواهد بود که بر فراز ویرانهٔ جنگ زده و پر گرد، خاک و خونی نشسته و آه بکشیم ازینکه ((لوی جرگه چقدر برای فکر نسل ما فرتوت است دریغا که از کنشی فرتوت انتظار واکنشی جوان را باید داشت)).

بیگمانی نسل امروز افغان را همان چند نوجوان ایران رفته - فرهنگی شده (به حساب لهجه ایرانی) و بیگانه شده از اصل افغانیت تشکیل نمیدهد و باید از فراز بارهٔ و یران این سرزمین چشم ها را گشوده و با چار سو نگریست، نسلی که امروز سربر آورده باوجود آشنائی با حبابهای نو و جدید سطح جهان باز هم نمیتواند به مفهوم موجودیت و هستی خویش پی ببرد چون بنیادش را گم کرده و بر خاکستر اجاق خاموش گشته یی بحالت زار نشسته است. در چنین حالتی زنده کردن و نشان دادن یکی از پایه های استوار جامعه کهن و باستانی افغانی نه تنها اینکه معادل "کنش فرتوت" نیست بلکه برعکس به مثابه دستی عمل خواهد کرد که آنان را پا کرده و بخود آرد. این برای اعمار اجتماع فردا ضروری و حیاتیست که ای کاش نام (لوبه جرگه) در محدوده نام باقی نمانده و میتوانست با حیثیت عملی خود جنایتکاران و خیانتکاران را از درون خود بیرون برآرد و بلکه مانند همان لوبه جرگه های قومی به تعمیل عدل و انصاف پرداخته و مسأله جنایات و خیانات را همانند مسایل بدل. دختر فروشی و خون با تطبیق عدالت فیصله نماید. بیشک مسایلی چون دختر فروشی، بدل، خون و زن کشی تنها مختص به قبایل باستانی نیست و امروز در آغاز هزاره دوم بعد از میلاد در حبابی ترین و دیموکراتیک ترین نقطه جهان نیز داکتر کمپیوتری میتواند زن کش و آدم کش حرفوی باشد، که حل و فصل چنین قضایایی نیز نشانه یی از ظلم و استبداد نخواهد بود. کاش نوجوانان حبابهای لوکس دموکراسی عصر حاضر به این حقایق جاوید پی برده بتوانند که رجوع به اصل "کنش فرتوت" نه بلکه ضرورت طبیعی و ناگزیر هر انسان و ملت زنده بوده و بدان معترف شوند.

شماره ۲۵ دلو ۱۳۸۲ هفته نامه اقتدام ملی

د خپلو فلمونو مخنیوی ته زیاته ارتیا ده

سهراب بیدلر

په هیواد کې د موقتي او انتقالي دورې په رامنځته کولو کې زمونږ پدې جنګ ځپلې ټولنه کې هغه ټول پرونې بندیزونه چې د راز راز اهدافو د رامنځته کولو او د پردو په هڅونه رامنځته شوي وو لیرې شول پرونیو بندیزونو زمونږ د ټولو خلکو او په تیره بیا د ځوانانو په وړاندې ډیرې ستونزې رامنځته کړې وې یو له هغو بندیزونو څخه د موسیقۍ او فلمونو د اوریدلو او لیدلو بندیزونه وو. په هر پاتک اوهره تلاشۍ کې به له خلکو څخه اخیستل کیستونه مات او په ونو کې به ځوړند کیدل .په هیواد کې د مرکزي حکومت په رامنځته کولو سره پرونې ډول ډول بندیزونه مات شول او زمونږ په ځوانانو کې د ژوند کولو سا وچلیده.

خو د ننیو ازادیو په ورکولو سره زمونږ ځوانانو ته داسې زیانونه هم رامنځته شول چې منفي نتیجې یې د دوی په راتلونکي ژوند کې لیدلې شو.

کابل ښار څه چې د هیواد د ټولو ولایاتو په ښارونو کې د بیلا بیلو کستونو ډک ډک دکانونه جوړ شوي دي ان په کوڅو کې هم د داسې کستونو دکانونه جوړ شوی چې کستونه یې په هره ژبه او له بیلا بیلو هیوادونو څخه دي په هر کور یې ورته د لیدلو زمینه برابره شوې ده په هر کور کې د تلویزیون او سی دي او ویډیو پواسطه د بیلابیلو فلمونو د لیدلو امکانات برابر شوي دي.

دا کار په حقیقت کې زمونږ ځوانان د ورځینو کارونو او د شپې له مطالعې څخه وباسي اکثره زده کوونکي چې په ښوونځیو کې په لوستونو نه پوهیږي یو علت یې د اړوندو کورنیو نه ځارنه او هره شپه د فلمونو لیدل دي همدا علت دي چې ځوانان خپل مسوولیت درک کولای نه شي او خپلې کورنۍ هم ورته د څه مسوولیت احساس نه لري.

لدې پرته زیات ځوانان د نیمه سکسي او سکسي فلمونو په لیدلو چې له لویدیځو هیوادونو څخه راځي او د کسټ پلورنځیو په دکانونو کې په مخفي ډول په کرایه ورکول کیږي دا یوه بله نیمګړتیا ده چې زمونږ ځوانان په جنسي لحاظ تحریک کوي ، په ټولنه کې د ناوړه فسادونو او نارواو اړیکو د رامنځته کولو لپاره زمینه برابروی چې له یوی خوا په ټولنه کې د دښمنیو زمینه برابروی او له بلی خوا ځوانان له کار او دندو څخه وباسي د ټولنیزو فسادونو د رامنځته کیدو سبب ګرزی د ځوانۍ په همدی عمر کې په عیاشۍ باندی اخته کیږي او د خپلو راتلونکو مسوولیتونو په وړاندی بې پروا کیږي داسې ځوانان په راتلونکی کې د دې پرځای چې خدمت وکړي د نورو د اوړو بار ګرزی په کورنیو لازمه ده چې په اولادونو د تلویزیون د پروګرامونو د لیدلو په برخه کې تقسیم اوقات جوړ کړي له هغو فلمونو څخه یې وڅاري چې اخلاقي فسادونه رامنځته کوي.

د سکسي او نیمه سکسي فلمونو د راوړلو، پلورلو او کرایي ورکولو په برخه کې باید امنیتي مسوولین څیړنه وکړي او کومه لاره یې وسنجوي. دولت ته لازمه ده چې د پرون په څیر د را واردیدونکو فلمونو د سانسور په برخه کې اجراات وکړي داسې فلمونه باید زمونږ هیواد ته راشي چې زمونږ د ځوانانو په تربیتي اړخ کې مثبت رول ولري.

اروپایی ټولنه او له افغانستان سره د هغې اقتصادي مرستې

ناصر شاه سرحدي

اروپایی ټولنه چې د څو لویدیځو هیوادونو له ترکیب څخه جوړه شوي اساسي هدف یې دادی چې د نړۍ په هیوادونو کې د دموکراسۍ د تحقق، د فکر او بیان د ازادۍ، د مخدره موادو د قاچاق او تولید او د نورو منفي پدیدو په وړاندی مبارزه وکړي.

د ((بن)) له تاریخي غونډې نه وروسته اروپایی ټولنې هم د نورو نړیوالو سازمانونو په شان زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې د سولې، عدالت، ثبات او دموکراسۍ تر ټنګ د هیواد د بیا جوړونې له پاره د میلیونونو ډالرو مرسته کړې او خپله دا مینه او علاقه یې د توکیو په کنفرانس کې ښودلې، د اروپایی ټولنې د همدی علاقې له مخې د روان ۲۰۰۴ میلادی کال د فبروری په ۱۸مه ددی ټولنې یو لوړ رتبه پلاوی ددی ټولنې د بهرنیو اړیکو کمیشنر ښاغلی ((کریس پاتن)) په مشری کابل ته یو کاري او دیپلوماتیک سفر وکړ او د خپلې هستوګنې په موده کې یې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د مشر ښاغلی حامد کرزی سره د اروپایی اتحاد د اهدافو پر بنسټ یو شمیر فاکتونه وړاندي کړي.

نومورې د ترهګرۍ، د بشر د حقوقو په تیره بیا د ښځو د حقوقو په وړاندی د سرغړونو، مخدره موادو د تولید او ټرافیک په وړاندی اندیښنه وښودله او په افغانستان کې یې د دا ډول شرایطو موجودیت د راتلونکی ۱۳۸۳ لمریز کال د ټول تاکنو له پاره یو ښه فال ونه بالله. خو د فهرست په فاکتونو کې یې دی ټکی ته په صراحت اشاره وکړه، وی ویل چې په هیواد کې د نوی اساسی قانون تصویب، د وسلو دراټولولو کمپاین او په هیواد کې د دوو میلیونو راستنیدونکو راتګ یې د سولې، ثبات او دموکراسۍ د تینګتیا له پاره یو ستر بری بللای شو.

د دا ډول ښو شرایطو په موجودیت کیدلی شي جنګي ډلې، خپلې سرې قوماندانان. قانون ماتوونکی او د مرکزی دولت په وړاندی بی توپیره ډلې یو په بل پسی بی وسلی شي او افغانان یې د تل له پاره له شر څخه خلاص شي.

پوره باور دی که د افغانستان اوسنی مشرتوب اود دفاعی چارو مسئولین د دا ډول منفی پدیدو په وړاندی د ایمانداری او هیواد پرستی په روحیه غوځ او پریکړونی چلند وکړي، نو د قانون د حاکمیت په نتیجه کې به نړیواله ټولنه په تیره بیا اروپایی ټولنه نوره هم خپلو اقتصادی مرستو ته دوام ورکړي چې نه یوازی د افغانستان په جوړولو کې به رول ولري بلکې په نړیواله ټولنه کې به یې اغیزی لا نوری هم پیاوړی شي.

متصدی صفحه :اباسین

دنیا رغاونی په لمر

د سولې او بیا رغاونې لپاره د جاپان مرستې

جاپان له ۱۹۳۰م کلونو څخه را په دیخوا له افغانستان سره بشپړې دوستانه اړیکې لري.

په ۱۹۹۴م کال کې جاپان په افغانستان کې د سولې او بیا رغاونې له پاره د یو نړیوال کانفرانس د جوړولو وړاندیز اعلان وکړ او له هماغه کال څخه د ۲۰۰۱ م کال تر اوړي پورې جاپان په نه ستړي کیدونکې توګه د افغانستان د ټولو ګوندونو د یو ځای کولو او روغې جوړې له پاره کار وکړ چې د توکیو بنار ته د سولې د خبرو اترو له پاره د دوی رابلل تر دې عبارت دي.

وروسته تر دې چې د سپتمبر د ۱۱ نیټې تراژیدي پیښه رامنځ ته شوه. جاپان هم له نورو هیوادونو سره د تروریزم په مقابل کې د مبارزې له پاره خپل ملاتړ او چمتووالی اعلان کړ او نوریې هم دې لاړې ته وهڅول په ۱۹۹۴م کال کې د افغانستان د دې واقعیتونو د مطرح کولو او نومولو له پاره د یو نړیوال کانفرانس د جوړولو وړاندیز وشو چې سوله باید د بیا رغاونې پر بنسټ جوړه شي. د هیواد بیرغاونه د ملي جوړې جاړې لامل او ملاتړ کېږي او ورپسې به د یوې دایمي سولې لامل شي.

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي ښاغلی لخدر براهیمي د افغانستان له پاره دخپل ځانګړي استازي په حیث وټاکلو او د افغانستان د خلکو ترمنځ یې روغې جوړې هڅې پیل کړې. په همدې وخت کې د ښاغلي براهیمي د کار په ملاتړ او رعایت کولو سره چې د بُن د پرېکړې لامل شو، جاپان، متحده ایالتونه، د اروپا اتحادیه او سعودي عربستان په افغانستان کې د بیا رغاونې پروسه د لازبنودي ګروپ په جوړولو د هماغه کال د نومبر په میاشت کې پیل کړه. د افغانستان د بیا رغاونې لازبنودونکی ګروپ (ای ار ایس جي) د ۲۰۰۲ م کال په جنوري کې د توکیو کانفرانس جوړ کړو. چې په هغه کې د هرې قاري له ۶۰ څخه زیاتو هیوادونو د افغانستان د بیا رغاونې له پاره د 4.5 ملیارده ډالرو ورکولو ژمنه وکړه، په عین وخت کې د ۲۰۰۱ م کال د ډسمبر په 22 د موقتي اداري په تاسیس، د بن پروسه له مخکې نه په جریان کې وه. جاپان د توکیو په کانفرانس کې د ۵۰۰ میلیونه امریکایی ډالرو د مرستې ژمنه وکړه.

جاپان هم د مرستو د سوقولو له پاره د مرستو رسولو څخه پرمختیایی مرستو ته د مرستو غوښتنه وکړه او د جاپان د صدراعظم د ځانګړی استازي "ساداکو اوګاتا" د راپور له مخې جاپان د مرستو له پاره لومړیتوبونه "اولیتونه" افغانستان ته د مرستې په خاطر ورکړل. چې هغې د توکیو د کانفرانس نه وړاندې افغانستان او دوه ګاونډي هیوادونه کتلي وو. په افغانستان کې انکشافاتو، بالاخره په جاپان فشار وارد کړو تر څو د مرستو ستراتیژي باندې له سره غور وکړي. د ۲۰۰۲ م کال تر اپریل پورې (د نړۍ د صنعتي هیوادونو غونډه چې په "جي ۸" نومول شوې وه) موافقه وکړه تر څو د امنیت د بهبود له پاره مرسته وکړي او د خپلو او یوناما د غړو څخه یې وغوښتل چې په مشخصو اړخونو کې د اړوندو فعالیتونو رهبري په غاړه واخلي. د جاپان د بهرنیو چارو وزیر "کاواګوچي یوریکو" د افغانستان له پاره د نویو مرستو د جوړولو یوه ستراتیژي اعلان کړه چې د په افغانستان کې د سولې په نوم نومول شوي امنیتي برخې د اصلاح له پاره مرسته د درېو عمده رکنونو څخه یو انتخاب شو. همدا راز د بهرنیو چارو وزیر کاواګوچي د (د سولې له پاره د راجستړول) د بې وسلې کولو د لوړوالي، ملکي کیدل (ملکي ژوند ته بیا راګرځیدل یا ډي ډي آر) وړاندیز وکړو. د ۲۰۰۲ م کال په می کې د جاپان هیواد د یوناما سره یو ځای د (ډي ډي آر) د رهبري په حیث ټعین شو. دوه نور رکنونه په سیاسي ساحه کې او د مرستو رسولو، بیا رغاونې او نوې جوړونې له پاره مرسته کوي. په سیاسي چارو کې جاپان د دولت کارونه د مالي او تخنیکي پلوه مرستې وکړې. جاپان د بیرنۍ لوی جرګې د تدویر له پاره د اړتیا وړ مرستې تر لاسه کړې او د اساسي قانون د کمیسیون د فعالیتونو مرستې یې وکړې. او همدا راز یې مختصصین را واستول تر څو د کابل تلویزیون د خپرونو دنوي ظرفیت په اړه مرسته وکړي. جاپان د راتلونکو ټاکنو (انتخاباتو) له پاره لاډیرې مرستې په پام کې لري.

د مرستو رسولو، نویو جوړولو او بیا رغاولو په ساحه کې جاپان د مرستندویه پروګرامونو د پراخولو او تطبیقولو ته د لومړیتوب په ورکولو قایل شو.

د ۲۰۰۲ م کال په فبروري کې د افغانستان له پاره د بیا ودانولو او کارموندلو پروګرامونه د (یو این ډي پي) له خوا پلي او په لاره واچول شول چې د جاپان په وسیله تمویلیږي او د اپریل په میاشت کې د نویو جوړولو (احیای مجدد) عاجل پروګرامونه به د جاپان د نړیوالې موسسې (جیکا) په وسیله پیل شي له دې دوو پروګرامونو څخه هر یو د ۲۰۰۲ م کال له اوړي نه را په دېخوا په کندهار کې تطبیق شوي دی. همدا راز جاپان د ۲۰۰۲ م کال په جولای کې د اوګاتا نوښتګر پروګرام چې د پرمختیایی او بیرنیو مرستو ترمنځ د تشې د ډکولو او د یو پراخه سیمه ییز پرمختګ او کلیوالو سیمو ته د مرستو د پراخوالي څخه عبارت دی، جوړ کړی دی.

د ۲۰۰۳ م کال له مني څخه را په دېخوا له ۹۰ میلیونه ډالرو څخه زیات امریکایی ډالر د دې چتر تر سیوري لاندې پروژو باندې لګول شوي دي. او دا پروژې په درې ناحیو یاني کندهار، ننګرهار او شمالي ولایتونو کې د نړیوالو موسسو په وسیله تطبیقیږي.

پردې برسېره جاپان، سعودي عربستان او متحده ایالتونو د کابل - کندهار سړک جوړ کړ او په پام کې ده چې دغه پروژه تر هرات وغځول شي او له کابل څخه تر کندهار پورې د لاړې سفر د موټر په وسیله شپږو یا اوو ساعتونو ته راټیټ شو. همدا راز جاپان د ښوونې، صحت، طبي مواظبت، مخابراتو او ډله ییزې رسنۍ، کرنې، د ماینونو له منځه وړلو او نورو کارونو له پاره د یو لړ مرستو کولو اقدامات کړي دي.

د هغو خلکو له پاره چې په ډېرو لیرې سیمو کې ژوند کوي، د یو شمېر زیاتو کوچنیو پروژو لکه: ښوونځیو د نویو جوړولو او بیا رغاونې، کلینیکونو، د اوبو د زېرمو جوړولو په برخه کې د جاپان بلاعوضه اساسي مرستې (جي ای جي پي) د افغانستان 32 ولایتونو څخه په ۱۹ ولایتونو کې پلي شوي دي او لادوام لري.

باز سازی میدان هوایی خواجه رواش کابل

با امضای تفاهم نامه یی میان دولت افغانستان و پیمان نظامی ناتو و کشورهای تمویل کننده میدان هوایی بین المللی خواجه رواش کابل بازسازی می شود. مجموع بودیجه در نظر گرفته شده برای توسعه میدان هوایی کابل ۶۰ میلون دالر امریکایی براورد شده است. که در بخش های احیای سیستم های مخابراتی، توسعه خطوط رنوی، بازسازی ساختمان های جانبی و تجهیز این میدان به امکان خدماتی مدرن به مصرف خواهد رسید. میدان هوایی کابل بزرگترین مرکز خدماتی هواپیمایی کشور محسوب می شود که در طول سالهای جنگ های داخلی صدمات فراوان دیده است. بطوریکه در حال حاضر نیز در بخش های وسیع از محوطه اطراف این میدان خطر انفجار بمب ها و ماین های بجا مانده از زمان جنگ وجود دارد. وزیر امور خارجه داکتر عبدالله ابراز امیدواری کرد تا با اغاز کار برنامه توسعه این میدان کار ماین کشی به پایان رسد.

کارهای مقدماتی بازسازی میدان هوایی کابل طی دو سال گذشته نیز ادامه داشته است اما روند فعالیت ها به کندی پیش رفته است. در اواسط سال جاری بانک جهانی اعلام کرده بود اماده است هزینه بازسازی میدان هوایی کابل را پرداخت کند. برخی دیگر از موسسات جهانی و کشورهای خارجی از جمله جاپان نیز اماده گی خود را برای تأمین مصارف بازسازی و توسعه میدان هوایی کابل اعلام کرده بودند. گفته شده است یکی از عوامل تاخیر در پیشرفت کارها موجود نبودن مرکز هماهنگ کننده این کمک ها بوده است. وزیر امور خارجه گفت با امضأ این توافق ازین پس پیمان نظامی ناتو سرپرستی فعالیت ها برای بازسازی میدان هوایی خواجه رواش را برعهده خواهد گرفت.

نماینده خاص پیمان ناتو در بخش فعالیت های ملکی حکمت چتین هنگام امضأی تفاهم نامه بازسازی میدان هوایی کابل گفت: سازمان ناتو امادگی دارد در جهت تطبیق برنامه بازسازی و توسعه این میدان با طرف های فعال در برنامه همکاری کند. معاون پیمان نظامی ناتو اقای کوبر نانسکی نیز بازسازی میدان هوایی کابل را عملی شدن بخش از توافقات جامعه بین المللی در برنامه های بازسازی و انکشاف افغانستان عنوان کرد و با اشاره به کارهای صورت گرفته درین میدان گفت ناتو متعهد شده است جهت سرعت یافتن برنامه های بازسازی هماهنگی فعالیت های را برعهده گیرد تا افغانستان بزودی دارایی میدان هوایی برابر با معیارهای جهانی باشد.

د بریښنا د پراختیا لپاره هڅې

د نړیوال بانک او د نورو پور ورکوونکو هیوادونو له پور څخه دوه سوه میلیونه ډالره د هیواد د بریښنا رسولو د شبکو د پیاوړتیا لپاره لګول کیږي. د اوبو او بریښنا وزارت یو تن چارواکی وویل له نړیوال بانک او نورو پور ورکوونکو هیوادونو څخه د دوه سوه میلیونو امریکایی ډالرو د پور موضوع د بریښنا وزارت وزیر شاکر کارګر د نړیوال بانک له چارواکو سره مطرح کړه. چې هدف یې د کابل، کندوز، کندهار، مزار شریف، پلخمری، بغلان، شبرغان، هرات، جلال آباد لنبکرګاه او د ګرشک د بریښنا د اوسنیو شبکو د پیاوړتیا د لګښتونو تمویلول دي.

په خبر کې ویل شوی دی چې لدغو پیسو څخه پنځه اویا میلیونه ډالره به یې د کابل بنار د بریښنا رسولو د شبکو په پیاوړتیا کې ولګول شي. په کابل کې اوس د بریښنا دویش د شبکو د جذب قدرت یو سلو شل میګاواټه دی او اوس پنځه اویا زره د بریښنا مشترکین شته او تر ۱۳۸۵ کال پورې به د طرح شوی پلان د تطبیق په صورت کې د کابل بنار لپاره د بریښنا د انرژۍ د جذب ظرفیت دری برابره لوړ شي ویل کیږي چې د بریښنا د شبکوپیاوړتیا او پراختیا د افغانستان په شان هیوادونو د پرمختګ لپاره د یو جدی اړتیا په توګه بلل کیږي چې په پراختیا سره یې په کلیو او بانډو کې د ژوند چارې په ښه توګه سمون مومي.

د څښاک د اوبو د برابرولو لپاره د څلورو پروژو جوړول

د کلیو د پراختیا وزارت له داوطلبی څخه وروسته د بدخشان ولایت د راګو د چترال دیفتل د ده بالا او د فیض آباد د څلورمی ناحیې د څښاک د اوبو د برابرولو د دریو پروژو کار دوه افغانی غیر حکومتی موسسو ته سپارلی دی. د نومورو سیمو خلک د څښاک د اوبو د کمښت له ستونزی سره مخ دی د بدخشان ولایت د کلیو د پراختیا د اداری چارواکی غوث الدین ویلی د دغو پروژو په پلی کیدو سره به د څښاک د اوبو برسیره د کرنې په سلګونو جریبه ځمکه هم خړوبه شي.

دغه راز په پام کې ده چې د نړۍ وال بانک په شل زرو د ډالرو مرستې سره د پکتیکا د ګیانه په ولسوالۍ کې د څښاک د اوبو ۲۷ څاګانې وکیندل شي. د پکتیکا ولایت د کلیو او پراختیا ریاست یو چارواکی ویلی چې د دغو څاګانو په کیندلو سره به د سیمې شاوخوا شل زرو خلکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي.

مشکلات سرپناه و تصامیم جدید

مسأله اعمار سرپناه برای مهاجرین عودت کننده بحث مقدماتی یی بود که در اوایل هفته جاری در جلسه مشترک وزارت های شهر سازی و مسکن، عودت مهاجرین و مسئولین ارگانهای ذیربط در وزارت شهر سازی و مسکن تدویر یافت. وزیر شهرسازی اقای گل اقا شیرزی روی طرح ها و برنامه های پلانی و پروژه های رهایشی برای مهاجرین، معلومات داد. ارایه راپور در مورد موضوعات تخنیکی پروژه های مورد بحث یکی دیگر از موضوعات شامل اجندا جلسه بود. در جلسه روی استملاک زمین های پروژه های رهایشی ده سبز، چهل دختران و احمد شابابا مینه تصمیم گرفته شد تا هر چه عاجل از سوی شاروالی کابل به شورای وزیران در زمینه پیشنهاد صورت گیرد. همچنان برای تسریع پروسه کارهای تخنیکی پروژه ها و طرح برنامه های کوتاه مدت و طویل المدت به وزارت شهرسازی و مسکن و سایر ارگانها وظایف مشخصتر سپرده شد.

قرار گزارشات هزاران عودت کننده بی سرپناه طی دو سال گذشته در وزارت عودت مهاجرین به کمک کمیشنری عالی ملل متحد برای پناهندگان در کابل ثبت نام نموده اند که تاکنون کدام اقدام عملی برای رفع نیازمندی آنان صورت نگرفته است.

در حالیکه برای ده ها هزار از عودت کننده گان در دیگر ولایات کشور در خصوص تهیه مسکن همکاری های انجام شده است.

بزرگتـــرین و بهترین...
بـــاز هم بهتر گردید !
با شبکه جدید و بزرگتر زیمنس!

افـغـان بیـسـیم
پیشتـاز زنـدگی شـمـا

سیمکارت تانرا امروز اخذ نمائید!

بیاد داشته باش!
اگر خیریت نرسید حتمی شر برسان تا مردمان دست خالی برنگردند.

فراموش مکن!
از ناپاک بودن حسابت هیچ گاه مترس زیرا که برای صد سال دیگر محاسبی را درین دیار نمی توان یافت.

خبردار!
برای آنکه هر شب چند بار نامت را در تلویزیون بگیرند و مگس هر دوغی به حساب آیی رئیس اژانس را از خود بساز.

باخبر!
اگر دستت به آلو نرسید از تبر کار بگیر

هوشدار!
برای انکه در مقاومت بسانی بوت آمرت را بلیس و برای زبر دستانت چاه بکن

طنز
چاره جویی

شعار غلام نقشبند خان مامور اداری در زنده گی همیشه این بود (کار باید به اهلش سپرده شود) به همین جهت از روزی که رئیس موسسه شان عجب گل را بکار جدیدی تعیین و توظیف کرده بود، اوقات غلام نقشبند خان تلخ بود، خود خوری میکرد و کاری از دستش ساخته نبود.

این موضوع سه چار روز دهن او را ببازی گرفته بود، آنروز هم مثل روزهای گذشته غرق در همین اندیشه بود که خانه سامان رئیس موسسه وارد دفتر شد و گفت:

- صاحب، رئیس صاحب شما ره خواستن.

غلام نقشبند خان به سرعت از چوکی برخاست و با چند گام سریع و تند خودش را به دفتر رئیس رساند و پس از ادای سلام عاجزانه منتظر امر و هدایت ایستاد، رئیس در تیلفون صحبت میکرد و در حالیکه آوازش میلرزید. به شخص مقابل اطمینان میداد که (بلی صاحب همطوریکه فرمودین مه اوره به کار دیگری توظیف ساختیم، شما کاملاً مطمین باشین، بلی بلی، بسیار خوب).

پس از خدا حافظی همینکه گوشی را گذاشت و نفسی براحت کشید به غلام نقشبند خان گفت:

همو کار عجب گل خان چطور شد! آیا از کار جدید خود خوش و راضی اس یانی؟ غلام نقشبند خان که دلش به لرزه افتاده بود با ستپاچگی گفت:

- صاحب او تا حالی ازی گپ خبر نداره.

- چرا نداره؟ او باید میفامید و خبر میشد.

- صاحب گستاخی مره می بخشین، شما خود تان بهتر میفامین که پیش بردن ای کار جدید از توان او پوره نیس.

رئیس که این حرف های غلام نقشبند خان را برتر از و به زمین زدن و کج بحثی تعبیر میکرد، با کمی قهر گفت:

- از روی چی ای گپه میزنی؟ به کدام دلیل؟

- صاحب: اینطور اس که اول به اول او قلم دست نیس، دوم اینکه زبانش بسیار گیرش داره، سوم اینکه کمی از گوش سنگین اس، چهارم این که بسیار زهیر اس و جسم نحیف داره، پنجم اینکه نظرش هم چندان نمیایه ازی خاطر مه گمان نمی کنم که او از عهده ای کار برایه.

رئیس موسسه در حالیکه چشمانش تنگ شده و دلایلی غلام نقشبند خان را موجه میدانست، عادی و بیتفاوت گفت:

پروا نداره، برش میگم که از همی حالی تا یک چند وخت ورزش کنه و خوده آماده انجام کارهای سنگین بسازه.

- صاحب تا او وخت کار هایش چطور میشه؟

رئیس با خلق تنگی گفت:

تو باید مره با موقفی که دارم درک کنی، مه نمی تانم گپ باجه وزیر صاحبه به زمین پرتم باید کاری شوه که (هم لعل بدست آید و هم دل یار نرنجه) غلام نقشبند خان که گیج و منگ شده بود گفت:

- مثلا چی کاری صاحب، عقل قاصر مه خو هیچ قد نمیته.

رئیس در حالیکه با بروت های نازکش بازی می کرد و با انگشت اندیشه ذهن گره گشای خود را میکاوید، پس از تعمق کوتاهی گفت:

- بلی بهترین راه.

غلام نقشبند خان حیرت زده چشم بدهن رئیس دوخته بود تا ببیند که چگونه گرهی این مشکل را کشوده است، رئیس در حالیکه سگرتش را آتش میزد گفت:

- یک دو نفر حماله استخدام میکنیم تا کارهای مربوط به عجب گل خانه پیش ببرن و خود عجب گل خان تا زمانی که یک زره جان بگیره و بکار ها وارد شود صرف بالابینی کنه چطور؟

غلام نقشبند خان تا میخواست حرفی بزند که رئیس قاطعانه افزود:

بلی همی حالی ای کاره میکنی و هر چی زودتر پیشنهاد استخدام دو نفر حماله نسبت ضرورت اشد نوشته میکنی و میاری فامیدی؟

غلام نقشبند خان در حالیکه تفش را قرت میکرد و گیج شده بود بسیار خوب گویان سرش را به علامت احترام و تعمیل امر فرود آورده دفتر رئیس را ترک گفت. و فردایش نه تنها عجب گل خان شروع بکار جدیدش که پر در آمد بود کرد بلکه دو نفر حمال هم به اساس ضرورت پس از منظوری رئیس موسسه جهت پیشبرد کارهای عجب گل خان استخدام شد و آب هم از آب تکان نخورد...

من از چور و رشوت به تنگم به تنگم!

ابو حسیب

ببین من چسان همنوا با درنگم
خورد هرزمان برسرو سینه سنگم
خورد برسرصخره سنگی کلنگم
زپرگویی محتاج گشته به بنگم
چگویم، چگویم که با خود به جنگم
من از چور و رشوت به تنگم به تنگم!
ببین چوریان را که در کاروبار بند
غم ملت ناتوان را ندارند
سر مردم ما کله میگذارند
ازین غصه گیچم ازین شکوه منگم
چگویم، چگویم که با خود به جنگم
من از چور و رشوت به تنگم به تنگم
چه وقت اینهمه ظلم آید به پایان
چه کسی این درد ما را رساند به درمان
زمین مرا غصب کرده قومندان
بترساند هر گه زتوپ و تفنگم
چگویم، چگویم که با خود به جنگم
من از چور و رشوت به تنگم به تنگم
خوری رشوه با زور چوکی مقاما
کشی تیغ بر روی ما از نیاما
خداوند گیرد زتو انتقاما
چی روزی بود گرتو آیی به چنگم
چگویم، چگویم که با خود به جنگم
من از چور و رشوت به تنگم به تنگم
چرا دولت ما دو ولت ندارد
به پیش تو ظالم چو قدرت ندارد
چگویم که پروای ملت ندارد
چو باور نداری نگه کن به رنگم
چگویم، چگویم که با خود به جنگم
من از چور و رشوت به تنگم به تنگم

خه لیدلی خه اوریدلی

تایله

چې اویه خړې شي هر څوک په کې کبان نیسي همدا وجه ده چې خینې هیوادوال له وخت څخه په استفاده د خپلو جیبونو د ډکولو په فکر کې لوړې.

پدې وروستیو ورځو د هناري ترانسپورټ خینو شخصي ډریورانو په خپل سر تاکلی کرایه د تیلو د لوړیدو په پلمه اوچته کړیده. نه پوهیږو چې ددې بیو د کنټرول دنده به د کومې اداري وې چې لاتر اوسه پورې يې ددې خپل سرو موټروانانو او نګرانانو مخه نده نیولې. که همداسې بې پروایي او نه څارنه موجود وي کیدای شي چې د بیو لوړوالی نور هم وهڅوي چې بیلګه يې د ښار او چار راهي قمبر په کرښه په خینو بسونو او ټکسیانو کې لیدلای شو.

* * *

د ننګرهار د پوهنتون او پیداګوژی استادانو او محصلینو بیا یوه لیکنه رالیږلې نه پوهیږو چې شکایت ورته ووایو او که وړاندیز هغوي وایي چې د لوړو زده کړو وزارت د ننګرهار د پوهنتون د محصلینو او استاذانو لپاره د لنډې او اوږدې مودې د تحصیلي بورسونو د ورکړې په برخه کې پاملرنه نه کوي د مور او میرۍ سلوک ورسره کوي. دا دې موږ خو يې وړاندیز او ستونزه ولیکله دمه ول يې په ملا دي ښښنه په خدای ج) ده

ERADA Daily

اراده — روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان

زیر نظر هیات تحریر انتشار مییابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: احمدشاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان — قیمت یک شماره ۲ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
Engineerjamil_amiry@yahoo.com
eradadaily@hotmail.com